# د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کې د مشورې ارزښت ته یوه کتنه

مولوي نورالحق مظهري
اسلامي زده‌کړو څانګه، شرعیاتو پوهنځی، فراه پوهنتون
ایمیل: noorulhaqmazharee@gmail.com

## لنډیز

مشوره د انساني ژوند یو له هغو اساسي ارزښتونو څخه ده، چې د عقل، تدبیر او ټولنیزې همغږۍ د څرګندېدو نښه ګڼل کېږي. د قرآن او حدیث له‌مخې مشوره نه یوازې د فردي پرېکړو لپاره یو سپارښت شوی عمل دی، بلکې د ټولنې د ادارې، مشرتابه او د عدالت د ټینګښت یو بنسټیز اصل ګڼل کېږي. څېړنې ښیي، چې الله جل جلاله د آدم علیه‌السلام له پیدا کېدو مخکې له ملائکو سره د مشورې په بڼه خبرې وکړې او رسول الله ﷺ هم په ډېرو مهمو چارو لکه د حدیبیې د سولې په وخت کې د خپلو اصحابو او آن د ام‌سلمه رضي‌الله‌عنها مشوره ومنله. د دې څېړنې موخه دا ده، چې د مشورې ارزښت، دینې بنسټونه، ټولنیزې اغېزې او عملي اړخونه یې روښانه شي او دا وښیي، چې مشوره د انساني عقلونو د یووالي او د پښېماني د مخنیوي وسیله ده. دا څېړنه د کتابتوني ډول او توصیفي-تحلیلي کړنلارې په اساس ترسره شوې، چې پکې د قرآن آیتونه، نبوي احادیث او د معاصرو علماوو نظریات کارول شوي‌دي. د څېړنې پایلې څرګندوي، چې مشوره د اسلامي رهبرۍ یو مهم اصل دی، چې د عدل، یووالي، باور او پرمختګ زمینه برابروي. له‌همدې امله د مشورې عملي کول نه یوازې د دینې فریضې حیثیت لري، بلکې د انساني عقل د پیاوړتیا او د ټولنې د سالم پرمختګ لپاره یو حتمي ضرورت ګڼل کېږي.

**کلیدي کلمې:** اسلامي لارښوونې، حدیث، رهبري، شوری، قرآن، مشوره.

## سریزه

انسان په‌خپل ژوند کې د بقاء، پرمختګ او بریا لپاره اړ دی، چې په فردي او ټولنیزه توګه د نورو خلکو سره اړیکې وساتي او له هغوی څخه د تجربو او عقل ګټه واخلي. د انساني ژوند هره برخه د متقابلې مشورې او ګډ فکر غوښتنه کوي. د اسلام له نظره مشوره (شوری) نه یوازې یو ټولنیز ضرورت دی، بلکې یو الهي اصل دی، چې د قرآن کریم او نبوي سنت په بنسټ ولاړ دی. الله تعالی د خپل نبي محمد ﷺ په اړه فرمایي: ﴿**وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ**﴾ (آل عمران: ۱۵۹) یعنې "په خپلو چارو کې له هغوی سره مشوره وکړه". دا الهي امر د مشورې ارزښت ته اشاره کوي او څرګندوي چې مشوره د هر مسلمان د ژوند یوه فکري او عملي اړتیا ده (ابن کثیر، ۲۰۰۵).

مشوره د یوې سالمې ټولنې د جوړښت بنسټ دی. د قرآن او حدیث له‌مخې مشوره د فردي پرېکړو، کورنۍ نظم، اداري مدیریت او اسلامي مشرتابه په هره برخه کې د عقل او تدبیر وسیله ده. نبي کریم ﷺ فرمایي: «**ما خاب من استخار، ولا ندم من استشار**» (الطبراني، **۱۹۹۳**)؛ یعنې هغه څوک نه خوارېږي، چې استخاره وکړي او نه پښېمانېږي څوک چې مشوره وکړي. دا څرګندونه کوي، چې مشوره د انسان د پښېمانۍ مخه نیسي او د ارام فکري ژوند ضمانت ورکوي. سره له‌دې، چې اسلام د مشورې اصل ته ډېر ارزښت ورکړی خو په ډېرو اسلامي ټولنو کې لا هم د مشورې فرهنګ کمزوری پاتې دی. ډېر مشران، مدیران او د کورنیو مشران پرېکړې یوازې د خپل فکر پر بنسټ کوي، چې دا کار د تېروتنو، بې‌اعتمادۍ او ټولنیز اختلاف سبب ګرځي. له همدې امله اړینه ده، چې د مشورې ارزښت د قرآن، سنت او عصري ټولنیزو اصولو په رڼا کې وڅېړل شي، چې د دې اصل عملي اړخونه او ګټې څرګندې شي.

مشوره د اسلامي ژوند د ټولو ساحو لپاره ضروري ده. له یوې خوا دا د الهي امر اطاعت دی او له بلې خوا د عقل د پیاوړتیا او ټولنیز یووالي لامل ګرځي. د مشورې فرهنګ د رهبرۍ مشروعیت، د ادارې شفافیت او د خلکو اعتماد زیاتوي (القرضاوي، ۲۰۱۲). په نني عصر کې، چې د ټولنو ستونزې پېچلې شوې‌دي د مشورې علمي او عملي اړخونه د سالمې پرېکړې لپاره حیاتي ارزښت لري. دا څېړنه هڅه کوي وښيي، چې څنګه د مشورې فرهنګ د انساني عقلونو د یووالي، د اعتماد د پیاوړتیا او د ټولنیز ثبات سبب ګرځي. د دې څېړنې اساسي پوښتنې دا دي، چې: د قرآن او حدیث له نظره د مشورې فلسفه څه ده؟ د

مشورې د اصل عملي اړخونه په اسلامي ټولنه کې څنګه تطبیقېږي؟ د مشورې نه عملي کول کوم ټولنیز او رواني زیانونه رامنځته کوي؟ او څنګه کولای شو د مشورې فرهنګ په معاصره ټولنه کې پیاوړی کړو؟

د څېړنې فرضيې دا دي، چې د اسلامي لارښوونو پر بنسټ مشوره د انسان د عقل او تجربې د یووالي وسیله ده؛ هغه ټولنې چې د مشورې اصل عملي کوي د عدالت، باور او یووالي له پلوه بریالۍ وي او د مشورې نه‌شتوالی د اختلاف، بې‌اعتمادۍ او ناکامۍ سبب ګرځي. د پخوانیو اسلامي عالمانو او معاصرو څېړونکو د آراوو په رڼا کې مشوره د اسلامي تمدن د بنسټیزو اصولو یوه برخه ګڼل شوې ده. او یوسف القرضاوي (۲۰۱۲) د شورى د اصل عملي اړخونه د اسلامي دولت په جوړښت کې حیاتي ارزښت لرونکي بللي دي. معاصر څېړونکي لکه عبدالفتاح ابراهیم (۲۰۱۷) او ناصر بن حمد (۲۰۲۰) هم دې پایلې ته رسېدلي، چې مشوره نه یوازې د دین یو سپارښت شوی اصل دی، بلکې د نهادونو د مدیریت، د بشري منابعو د اغېزمن استعمال او د ټولنیز ثبات لپاره یو حیاتي اصل دی.

له همدې امله ویلای شو، چې مشوره د اسلامي فکري نظام یوه ژوره انساني ځانګړنه ده، چې د دین، عقل، اخلاق او ټولنې تر منځ د توازن د رامنځته کولو وسیله ده. د مشورې اصل د بشري فکر د یووالي، د نظر د تنوع د منلو او د عادلانه رهبرۍ د تحقق بنسټ برابروي. د دې څېړنې عمومي پایله دا ده، چې مشوره د یوې انساني او الهي فریضې په توګه نه یوازې د فردي ژوند د ارامۍ وسیله ده، بلکې د ټولنیز نظم، عدالت او پرمختګ تضمین هم ګڼل کېږي. د دې اصل عملي کول د یوې بریالۍ او متوازنې ټولنې د جوړېدو لپاره اړین دي.

## د څېړنې کړنلاره

دا څېړنه د کتابتوني ډول او توصیفي-تحلیلي میتود له لارې ترسره شوې او له معتبرو کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې‌ده، چې پکې د قرآن آیتونه، نبوي احادیث او د معاصرو علماوو نظریات کارول شوي‌دي.

## د مشورې لغوي تعریف

مشوره په لغت کې د مفعله پر وزن ده، چې د اشارة لفظ څخه مشتقه شوې ده، چې همدا خبره په تاج العروس کتاب کې راغلې ده(الزبیدي،۱۴۰۳: ۲۵۷/۱۲).

او لفظ د مشورې دوه ډوله ویل کېږي: ۱ – په سکون سره د شین او په فتحه سره د واو. ۲ – په ضمه سره د شین او په سکون سره د واو (الحموي، ۱۴۱۵:/۱۰۴).

مشوره په لغت کې په معنی سره د نصیحت کولو راځي، چې د رأي ښکاره کولو او نورو شیانو په بڼه وړاندي کېږي (المعجم ادبي مجمع، ۱۳۸۰: ۴۹۹/۱).

## د مشورې اصطلاحي تعریف

په اصطلاح کې مشوره د رأي اخیستلو او وړاندي کولو ته وايي، چې د انسانانو تر منځ تبادله کېږي (المناوي،۱۳۵۹: ۶۵۸/۱).

## مشوره د قرآن له‌نظره

په قرآن کریم کې ډېر ځایونه شته، چې د هغو څخه یا صراحتاً او یا اشارتاً د مشورې ارزښت معلومېږي، چې ځیني ځایونه يې په لاندي ډول دي:

۱ - ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾( البقرة: ۳۰) ژباړه: هغه وخت په یاد کړه، چې ستا رب ملائکو ته وویل: زه په ځمکه کې د خلیفه پیدا کوونکی یم.

د دې آیت په تفسیر کې ډېرو مفسرینو لیکلي دي، چې الله تعالی دا خبره څکه د ملائکو سره شریکه کړې، چې بنده گانو ته د مشورې تعلیم ورکړي او دا ورته زده‌کړي، چې د هر کار تر کولو مخکې باید د اهل سره د مشورې مشوره وشي.

په تفسیر ابن کثیر کې يې ویلي دي: سدي وايي: الله تعالی د ملائکو سره د آدم علیه السلام په پیدا کولو کې مشوره وکړه (الدمشقي،۱۳۴۳: ۲۱۶/۱). هدف يې دا دی، چې صورت يې صورت د مشورې وو کنه نو الله تعالی مشوره کولو ته هیڅ اړتیا نه لري د دې لپاره چې انسانانو ته تعلیم ورکړي.

امام رازي په خپل تفسیر مفاتیح الغیب کې فرمايي: یقینا چې الله تعالی خپلو بندگانو ته د مشورې تعلیم ورکوي (الرازي،۱۳۰۸: ۳۸۳/۲). ځکه کله چې د الله تعالی د ملائکو سره خبره د مشورې په شکل شریکوي سره د دې چې الله تعالی مشوره کولو ته هیڅ اړتیا نه لري انسانان يې خو باید بیخي شریکه کړي.

په تفسیر التحریر والتنویر کې راځي: که څه هم الله تعالی په رأیه کې د مخلوقاتو د مرستې څخه بې‌پروا دی خو د ملائکو سره يې خپل هدف شریک کړ تر څو مشوره کول په بشر کې یو عادت جوړ شي ځکه، چې د بشر پیدا کېدل د الله تعالی په تقدیر کې و (السیوطي، ۱۳۳۰: ۲۷۰/۳).

په روح البیان تفسیر کې يې د دې آیت د فوائدو څخه یوه فایده دا ذکر کړې‌ده چې: په‌دې آیت کې بنده گانو ته د دوی په کارونو کې د مشورې د کولو تعلیم دی او دا چې

بنده‌ګان دې خپل کارونه خپل پر باوري کسانو وړاندي کړي او د هغوی نصیحتونه دې واوري که څه هم الله تعالی په خپل علم او حکمت د مشورې غوښتلو څخه بې پروا دی (الحسیني، ۱۳۲۰: ۷۳/۱).

۲ - ﴿وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ﴾( الشوري: ۳۸) ژباړه: او هغه کسان، چې د خپل رب جواب ورکوي او لمونځونه آداء کوي او کار د دوی په خپل منځ کې مشوره ده او د هغه شي څخه چې موږ په رزق ورکړي دي نفقه ورکوي.

په‌دې آیت کې الله تعالی د مسلمانانو یوه ځانګړتیا دا ذکر کړې‌ده، چې دوی تر خپل منځ مشوره سره کوي، چې دا د مشورې د ارزښت بیانوونکې ده. قرطبي (رحمه الله) د دې آیت په تفسیر کې د ابن عطیه په حواله لیکلي دي: مشوره د شریعت د اصولو څخه ده او د احکامو د ټینګوونکو څخه ده؛ څوک چې د اهل علم او اهل دین سره مشوره نه کوي د هغه عزل کول واجب دی او د دې آیت څخه داسې ښکاري، چې مخکې تر دې، چې مشوره د سلطنت له ارکانو شي یوه ټولنیزه اړتیا ده، ځکه دا آیت مکي دی او په مکه مکرمه کې د مسلمانانو دولت جوړ نه و.

۳ - ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾( آل عمران: ۱۵۹) ژباړه: د دوی سره په کار کې مشوره وکړه. په‌دې آیت کې الله تعالی خپل پیغمبر ته امر کوي، چې د خپلو ملګرو سره په کارونو کې مشوره وکړه؛ په داسې حال کې، چې پیغمبر معصوم دی او مستقیما د الله تعالی څخه فرمان اخلي خو بیا هم الله تعالی ورته امر کوي، چې د خپلو ملګرو سره مشوره وکړي دا په دې خاطر دی، چې الله تعالی په مشوره کې فضیلت او برکت ایښی دی؛ په شعب الایمان کتاب کې د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه په حواله ویلي دي: کله چې دغه آیت نازل شو"وشاورهم في الامر" رسول الله ﷺ وفرمایل: الله او د هغه رسول مشورې ته اړتیا نه لري خو مګر مشوره الله تعالی زما د امت لپاره رحمت ګرځولې ده، د دوی څخه چې کوم څوک مشوره وکړي نو سمه لاره به ورکه نه کړي او د دوی څخه څوک چې مشوره پرېږدي هغه به ستونزي ورکې نه کړي. یعنې څوک چې مشوره وکړي هغه اړومرو سمه لاره پیدا کوي او څوک چې مشوره ونکړي هغه به اړومرو د ستونزو او ستړیاوو سره مخامخ کېږي.

**مشوره د نبوي احاديثو له‌نظره**

په احاديثو کې د رسول الله ﷺ څخه د مشورې اړوند ډېر څه راغلي دي، چې د بېلګې په ډول يې څو داني ذکر کوو:

**١ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ مَشُورَةً لأَصْحَابِهِ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ** (ترمذي،١۴٠٣: ١٧١۴: ٣/٢٦٥).

ژباړه: ابوهريره رضي الله عنه فرمايي: ما هېڅوک نه دی ليدلی ډېر مشوره کوونکی تر رسول الله ﷺ، چې د خپلو ملګرو سره يې ډېره مشوره کوله.

سره د دې، چې رسول الله ﷺ ته وحي راتله او په مستقيم ډول يې د الله تعالی سره رابطه درلوده، خو بيا يې هم په اجتهادي کارونو کې د خپلو ملګرو سره مشوره کوله، چې د رسول الله ﷺ د مبارک سيرت څخه دا عمل له ورايه ښکاره کېږي.

٢ - عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ من اراد أمرا فشاور فيه امرأ مسلما وفقه الله لأرشد أموره (ابراهيم،١٣٨٠: :٨٣٣٣: ٨/١٨١).

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د يو کار اراده ولري نو په هغه کې د يو مسلمان سره مشوره وکړي الله تعالی به يې د کارونو څخه غوره ته توفيق ورکړي.

**٣ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: مَا اسْتُخْلِفَ خَلِيفَةٌ إِلاَّ لَهُ بِطَانَتَانِ بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْخَيْرِ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَبِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالشَّرِّ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَالْمَعْصُومُ مَنْ عَصَمَ اللَّهُ** (البخاري،١۴٠٧ :٦٦١١، ٢/٩٥).

ژباړه: ابوسعيد خدري رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي، چې هغه وفرمايل: هېڅوک نه خليفه کېږي، مګر دا چې د هغه لپاره به دوه د راز کسان وي چې يو به يې په خير امر کوي او پر هغه به يې باعث کوي او بل به يې په شر امر کوي او پر هغه به يې باعث کوي، خو هغه څوک به ساتل کېږي، چې الله تعالی يې وساتي.

دلته ذکر د خليفه خو خبره عامه ده، هر مشر ته شامليږي، هدف ورڅخه دا دی، چې کوم څوک چې مشر شي د هغه لپاره به ارومرو دوه د راز او اسرارو کسان وي، چې مشورې ورکوي، يو به د خير مشوره ورکوي او د خير کولو ته به يې هڅوي بل به د شر مشوره ورکوي او د شر کولو ته به يې هڅوي خو هغه څوک به سالم پاتې کېږي، چې الله تعالی يې سالم وساتي.

ځینو علماؤ د راز د کسانو داسې بیان کړی دی، چې دغه د راز د کسانو څخه یا وزیران مراد دي، یا ملائکه او شیطان مراد دي، یا نفس اماره او نفس لوامة مراد دي او یا هم دوستان او خپلوان مراد دي.

په ځینو احادیثو کې نبي او والي یاد شوي دي، چې نبي خو الله تعالی په خپل قدرت باندي ساتي او دېته يې نه پرېږدي، چې د نااهله مشاور خبره ومني ځکه نبي د الله تعالی په قدرت باندي د ګناه څخه معصوم دی؛ پاته شو خلیفه او والي هغوی به د ښو او بدو مشاورینو تشخیص کوي، د ښه مشاور خبره به مني او د بد مشاور خبره به نه مني او د الله تعالی څخه به د توفیق سوال کوي.

د دې حدیث څخه له ورایه ښکاري، چې هر مشر باید مشاور ولري او د ځان لپاره ښه مشاور غوره کړي، چې د خیر مشوره ورکړي او خیر ته يې وهڅوي.

**٤ - عن أنس بن مالك قال قال رسول اللهﷺ ما خاب من استخار ولا ندم من استشار ولا عال من اقتصد** (ابراهیم، ۱۳۸۰: ٦٦٢٧: ٣٦٥/٦).

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې استخاره وکړي هغه به خوار نه شي، څوک چې مشوره وکړي هغه به پښېمانه نه شي او څوک چې په لګښت کې اعتدال وکړي هغه به فقیر نه شي.

په دې حدیث کې د مشورې لویه ګټه بیان شوې ده، چې هغه بریالیتوب او کامیابي ده او دا چې مشوره کوونکي به هیڅ وخت د داسې حالت سره مخامخ نه شي چې سبا ورځ بیا پښېمانه وي.

## مشوره د رسول الله ﷺ په سیرت کې

۱ – د بدر غزا کې رسول الله ﷺ د صحابه وو سره په ډېرو شیانو کې مشوره وکړه؛ رسول الله ﷺ و جنګ ته په وتلو کې مشوره وکړه، چې مهاجرینو او انصارو موافقه ورسره وکړه او حباب بن المنذر مشوره ورکړه، چې دلته باید ستراتیژیک موقعیت ته تغییر ورکړل شي تر څو مشرکین اوبه پیدا نه کړي، چې رسول الله ﷺ هم دغه مشوره ورسره قبوله کړه. همداسې رسول الله ﷺ د بندیانو په اړه هم مشوره وکړه، چې ابوبکر او اکثره صحابه وو رضي الله عنهم د فدیې مشوره ورکړه او عمر رضی الله عنه او ځینو نورو صحابه وو د وژلو مشوره ورکړه، رسول الله ﷺ د ابوبکر رضي الله عنه مشوره قبوله کړه، چې وروسته دغه آیت هم نازل شو﴿ **مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ**

**يُرِيدُ الْآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ**﴾( الانفال:٦٧) په غزواتو کې د رسول الله ﷺ مشوره د شورى او مشورې پر ارزښت دلالت کوي، چې هيڅ وخت يې بايد مسلمانان له يادو و نه باسي (صلابي،١٤٢٢ :١٦).

٢ –د احد په غزا کې د رسول الله ﷺ مشوره؛ وروسته تر دې، چې رسول الله ﷺ د کفارو د لښکر پوره معلومات را غونډ کړه، خپل ملګري يې را وغوښتل او مشوره يې ورسره وکړه، چې آيا په مدينه کې پاتي شي او که د مشرکينو مخې ته ووځي؟ چې د مشورې وروسته يې د وتلو فيصله وکړه، رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته داسې عادت ورکړی و، چې هر څوک په آزاده توګه په مشوره کې خپل نظر ښکاره کړي که څه هم د رأي سره د رسول الله ﷺ مخالف وي (صلابي،١۴٢٢ : ٢٦ – ٢٩).

٣ – د الاحزاب په غزا کې د رسول الله ﷺ مشوره: د خندق يا احزاب په غزوه کې مشوره ډېره ښه وځلېدل، چې کله رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره د دښمن سره د مخامخ کېدلو پر کيفيت مشوره وکړه، چې سلمان فارسي رضي الله عنه داسې مشوره ورکړه، چې د مدينې منورې پر شا اوخوا دې خندق وکيندل شي، چې د دښمن د راتللو مخه ونيسي او رسول الله ﷺ د سلمان فارسي رضي الله عنه مشوره قبوله کړه او د خندق کيندلو امر يې صادر کړ. په همدغه غزا کې رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره مشوره وکړه، چې د غطفان قبيلې سره د مدينې د ميوو پر ثلث صلح وکړي، چې هغوی د احزاب څخه په شا شي، چې په مشوره کې دا سوله رد شوه (صلابي،١۴٢٢: ٣٠ – ٣۴).

۴- د حديبې سولې په تړون کې د رسول الله ﷺ د ام سلمې رضي الله عنها سره مشوره

کله چې د حديبيې په صلحه کې رسول الله ﷺ د صلحي د ليک څخه فارغ شو نو خپلو ملګرو ته يې وويل: ولاړ شئ خپل اوښان حلال کړئ او خپل سرونه وخريئ، په الله قسم چې هيڅوک ولاړ نه شو تر څو رسول الله ﷺ دريځلي دا خبره وکړه، کله چې هيڅوک ولاړ نه شو رسول الله ﷺ د ام سلمې رضي الله عنها څخه ولاړی او دا خبره يې ورسره شريکه کړه، ام سلمې رضي الله عنها ورته وويل: ای د الله نبي آيا ته دا خوښوې؟ ووځه او د هېچا سره هېڅ خبره مه کوه تر څو اوښ حلال کړه او خپل سر وخريه، رسول الله ﷺ ووتی، د هېچا سره يې خبره ونکړه تر څو يې اوښ حلال کړ او يو کس يې را وغوښت، چې د رسول الله ﷺ سر يې وخريي، کله چې صحابه وو رسول الله ﷺ وليد

ړول ولاړ شوه، خپل اوښان يې حلال کړه او خپل سرونه يې وخريل (بخاري،۱۴۰۷: ۲۷۳۲: ۲۵۷/۳).

۵ – د تبوک په غزا کې د رسول الله ﷺ مشوره: د تبوک په غزا کې رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو ډېرې مشورې قبولې کړې؛ په استسقاء کولو کې يې د ابوبکر رضي الله عنه مشوره قبوله کړه، د اوښانو په نه حلالولو کې يې د حضرت عمر رضي الله عنه مشوره قبوله کړه او د شام تر حدودو په نه تېرېدلو او مدينې ته په بېرته تللو کې يې هم د حضرت عمر رضي الله عنه مشوره قبوله کړه.

## د رسول الله ﷺ د مشورې کولو حکمت

دا د رسول الله ﷺ په سيرت کې د مشورې يو څو بېلګې وې؛ رسول الله صلى الله عليه سلم د خپلو ملګرو سره ډېرې مشورې کولې مخکې مو د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه وليکل، چې فرمايي: ژباړه: ما نه دی ليدلی هېڅوک، چې تر رسول الله ﷺ دې د خپلو ملګرو سره ډېره مشوره وکړي. خو پوښتنه دا ده، چې رسول الله ﷺ ولې مشوره کوله؟ سره د دې، چې ده ته خو وحي راتله او په هر حکم کې الله تعالى فيصله ورته را استوله؟ د دې خبرې په ځواب کې علماؤ څو خبرې کړي دي:

حسن بصري (رحمه الله)فرمايلي دي: که څه هم رسول الله ﷺ د مشورې کولو څخه بې پروا و خو په دې خاطر، چې د ده پسې نور حاکمان چې د ده وروسته راځي اقتداء وکړي نو ځکه يې مشوره کوله.

**قَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ : إِنْ كَانَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– لَغَنِيًّا عَنِ الْمُشَاوَرَةِ وَلَكِنَّهُ أَرَادَ أَنْ يَسْتَنَّ بِذَلِكَ الْحُكَّامُ بَعْدَهُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ** (البيهقي،۱۳۴۴: ۱۳۰۸۳: ۴۶/۷).

په بيهقي کې راغلي دي: رسول الله ﷺ ځکه مشوره کوله، چې په مشوره باندې صحابه خوشحاله کېدل او د دې لپاره چې هغه کسان اقتداء ورپسې وکړي چې د خلکو سره داسې نسبت نه لري، کوم چې رسول الله ﷺ يې لري.

**ولكن في المشاورة استطابة أنفسهم وأن يستن بها من ليس له على الناس ما لرسول الله صلى الله عليه وسلم** (البيهقي،۱۳۴۴ :۲۴۱/۵).

او ځينو بيا د پورته دلائلو سره دا خبره هم کړې‌ده، چې رسول الله ﷺد خپلو ملګرو سره مشوره کوله، د دې لپاره، چې هغوی ته دا ورښکاره کړي، چې زه په غير منصوصي مسائلو کې ستاسو نظر هم اورم ځکه رسول الله ﷺ به ويل: **إِنِّي فِيمَا لَمْ يوحْ إِلَيَّ كَأَحَدِكُمْ**

ژباړه: په کومو شيانو کې، چې ما ته وحي نه وي شوې زه داسې يم لکه يو فرد ستاسي او د دې لپاره يې مشوره کوله، چې هغوی ته د مشورې ارزښت ښکاره کړي (سجستاني، ۱۳۷۰: ۲۲۴۷: ۲۷۵/۳)، (البکري،۱۴۲۳ : ۲۹۸/۱۰).

## د مشوره ورکوونکي ځانګړنې

پهدې خاطر، چې مشوره ډېر ارزښت لري او په مشورې پورې ډېر لوی کارونه تړلي دي ځکه نو د هر چا سره مشوره نه شي کېدلای بلکې مشوره بايد د هغو کسانو سره وشي، چې د مشورې لپاره د ځانګړيو شرايطو در لودونکی وي؛ لاندي هغه شرايط ذکر کوو، چې حسين بن محمد المهدي په خپل کتاب الشوری في الشريعة الاسلامية کې د قرآن، حديث او علماؤ د وينا په حواله ذکر کړيدي، چې موږ يې لنډيز ستاسي سره شريکوو:

۱. مشاور بايد پر الله تعالی ايمان درلودونکی او پر هغه توکل کوونکی وي.

۲. مشاور بايد له لويو ګناهونو او فاحشو کارونو ځان ساتلی وي.

۳. مشاور بايد د ښه سيرت او ښه چلند څښتن وي او له هغو کارونو ځان وساتي، چې الله تعالی او د هغه رسول ﷺ منع کړي دي.

۴. مشاور بايد د زغم او ښښنې د خوی او عادت درلودونکی وي.

۵. مشاور بايد د الله تعالی امر ته لبيک ويونکی او د هغه د دين د نښو او شعائرو درناوی کوونکی وي.

۶. مشاور بايد امانت داره رښتيا ويونکی او مؤمن وي.

۷. مشاور بايد د علم، نصيحت او لارښوونې خاوند وي.

۸. مشاور بايد عاقل او د سالم فکر لرونکی وي.

۹. مشاور بايد خپلواک فکر ولري.

۱۰. مشاور بايد د نظر په څرګندولو کې زړور وي. (محمود،۱۴۰۰: ۱۹۰-۲۲۰).

## د مشورې وړ کارونو پېژندل

پهدې خاطر، چې په مشوره کې حق ته د رسېدلو او نه رسېدلو دواړو احتمال شته نو په هغو مواردو کې مشوره کېدلاي شي، چې هلته نص موجود نه وي، په کوم ځاي کې، چې نص موجود وي هلته مشوره نه شي کېدلای، لکه د لاندې فقهي عباراتو څخه چې همداسې ښکاري:

۱ - واتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى أَنَّ مَحَل مُشَاوَرَتِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَكُونُ فِيمَا وَرَدَ فِيهِ نَصٌّ ؛ إِذِ التَّشَاوُرُ نَوْعٌ مِنَ الاِجْتِهَادِ وَلاَ اجْتِهَادَ فِي مَوْرِدِ النَّصِّ .(موسوعة،۱۴۲۷ : ۲۸۱/۲٦).

ژباړه: فقهاؤ اتفاق کړی، چې د رسول الله ﷺ د مشورې ځای هغه و په کوم کې چې نص نه و راغلی، ځکه مشوره یو ډول اجتهاد دی او په ځای کې د نص اجتهاد نه شته.

۲ - وَمَحَل الشُّورَى فِي الْقَضَاءِ هُوَ فِيمَا اخْتَلَفَتْ فِيهِ أَقْوَال الْفُقَهَاءِ ، وَتَعَارَضَتْ فِيهِ آرَاؤُهُمْ فِي الْمَسَائِل الدَّاخِلَةِ فِي الاِجْتِهَادِ. أَمَّا الْحُكْمُ الْمَعْلُومُ بِنَصٍّ ، أَوْ إِجْمَاعٍ ، أَوْ قِيَاسٍ جَلِيٍّ ، فَلاَ مَدْخَل لِلْمُشَاوَرَةِ فِيهِ.(موسوعة،١٤٢٧ : ٢٨٢/٢٦).

ژباړه: په قضاء کې د مشورې ځای هغه دی په کوم کې، چې د علماؤ قولونه مختلف راغلي وي او هغه اجتهادي مسائل دي، چې د علماؤ نظرونه پکې متعارض راغلي وي خو په هغه حکم کې، چې په نص، اجماع او ښکاره قیاس باندي ثابت وي په هغه کې د مشورې لپاره هيڅ دخالت نه شته.

## مشران باید د علماؤ او پوهانو سره مشوره وکړي

د مشورې ارزښت ته په کتو او په دې خاطر، چې هر وخت حاکم نظام د ستونزو سره مخامخ کېږي باید په نظام کې مشران په ګڼو برخو کې د علماؤ او پوهو کسانو سره مشوره وکړي، چې د نظام په چلولو کې یې مرسته وشي او د بې ځایه تېروتنو څخه وژغورل شي لکه رسول الله ﷺ، چې د خپلو ملګرو سره مشوره کوله او لکه خلفاء راشدینو، چې په خپل وخت کې د خپلو خاصو کسانو سره مشوره کول؛ په تفسیر قرطبي کې راځي:

وقال ابن خويز منداد: واجب على الولاة مشاورة العلماء فيما لا يعلمون، وفيما أشكل عليهم من أمور الدين، ووجوه الجيش فيما يتعلق بالحرب، ووجوه الناس فيما يتعلق بالمصالح، ووجوه الكتاب والوزراء والعمال فيما يتعلق بمصالح البلاد وعمارتها (قرطبي،۱۹۹٦: ۲۴۹/۴).

ژباړه: ابن خویز منداد ویلي دي: پر حاکمانو لازمه ده، چې د علماؤ سره د هغه څه په اړه مشوره وکړي، چې دوی پرې نه پوهېږي او په هغه ديني کارونو کې، چې پر دوی سخت شي، د لښکر د مشرانو سره باید په هغو کارونو کې مشوره وکړي، چې تر جنګ پورې تعلق نیسي، د خلکو د مشرانو سره باید په هغو کارونو کې مشوره وکړي، چې تر مصلحتونو پورې تعلق نیسي او د کاتبانو، وزیرانو او عمالو سره په هغو کارونو کې مشوره وکړي، چې د ښارونو تر ګټو او آبادۍ پورې تعلق نیسي.

که په کومو ځایونو او ځینو حالاتو کې شفاهي او حضوري مشوره ممکنه نه وي هلته بیا حاکم کولای شي د لیک او خط له لارې د وړ کسانو سره مشوره وکړي لکه په رد المختار کې یې، چې دا کار پخوانۍ طریقه او سنت ګڼلی دی:

وَأَنَّ الْمُشَاوَرَةَ بِالْكِتَابِ سُنَّةٌ قَدِيمَةٌ فِي الْحَوَادِثِ الشَّرْعِيَّةِ.(ابن عابدین:۳۰۵/۲۱ المکتبة الشاملة).

ژباړه: یقیناً چې په لیک باندې مشوره کول په شرعي پېښو کې پخوانۍ طریقه ده.

مشران باید د ځان لپاره د نیک مشاور په لټه کې وي او د الله تعالی څخه وغواړي تر څو نیک مشاور ورته په نصیب کړي؛ په حدیث شریف کې راځي:

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ وَلِيَ مِنْكُمْ عَمَلاً ، فَأَرَادَ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرًا صَالِحًا إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ ، وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ.(نسائي،۱۴۱۱: ۷۷۷۹: ۱۹۱/۷).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ستاسې څخه کوم چا ته، چې کار ورکړل شي، نو الله تعالی د هغه لپاره د خیر اراده وکړي، د ده لپاره صالح وزیر مقرر کوي، که یې کوم شی هیر شي دی، یې ورته په یادوي او که یې په یاد وي مرسته یې کوي.

علامه محمد بن علي اندلسي فرمايي: د پاچا اصلاح او فساد د وزیر د اصلاح او فساد سره تړلي دي، ځکه وزیر د پاچا سره داسې دی لکه پاچا د عامو خلکو سره؛ چې پاچا اصلاح شي خلک هم ورسره اصلاح کېږي او که پاچا فاسد شي خلک هم ورسره فاسدېږي نو که وزیر اصلاح شي پاچا هم اصلاح کېږي او که وزیر فاسد شي پاچا هم ورسره فاسد کېږي. طرطوشي (رحمه الله) ویلي دي: تر ټولو بد امیران هغه دي، چې شریر انسانان یې وزیران، مشاورین او دوستان وي.(اندلسي، بی تا:۲۵/۱).

د مشرانو لپاره مشاوره کمال دی، ځکه نو علماؤ ډېر ټینګار ورباندې کړی دی؛ اعمش (رحمه الله)فرمايي: شر الأمراء أبعدهم من العلماء.(نمري،۱۴۲۴ : ۳۳۲/۱) ژباړه: تر ټولو بد امیران هغه دي، چې د علماؤ څخه لرې وي. یعنې هغه کسان، چې د علماؤ سره مشوره نه کوي.

## د مشورې ګټې

۱ - په مشوره کې اکثره وخت حق ته رسېدل شته، ځکه چې کله نظریات په بشپړه ازادۍ وړاندې شي، هر څوک خپل استدلال وړاندې کړي، نیتونه پاک وي، هدف د حق موندل وي، عامه ګټه لومړیتوب ولري، مشوره کوونکی له نفساني خواهشاتو او بدو انګیزو پاک وي او پر الله تعالی توکل وشي، نو شک نه شته، چې پایلې به یې سمې وي، د منلو

وړ به وي او دا خبره د صحابه‌وو رضي الله عنهم په دور کې ښکاره شوې ده، چې ډېر نصوص يې تأييد کوي.

۲ - مشوره کول د الله تعالی عبادت او طاعت دی، ځکه پکې د خير لپاره د نظرونو يو ځای کېدل، د مسؤول کس فکر ته اصلاح ورکول او د الله تعالی حکم ته غاړه ايښودل شامل دي. مشوره د اسلامي حکومت له اساسي اصولو څخه ده او د مؤمنانو (حاکمانو او ولس) له ځانګړنو څخه ګڼل شوې، لکه څنګه چې الله تعالی يې هم يادونه کړې.

۳ - د مشورې له لويو ګټو څخه يوه دا ده، چې فکرونه يو له بله تقويه کېږي، باور ډېرېږي، تجربې تبادله کېږي، د نورو له معلوماتو څخه ګټه اخيستل کېږي او دا چاره د ټولنې د افرادو تر منځ فکري بشپړتيا را منځته کوي.

۴ - مشوره ټولنې ته په ډېرو انساني برخو کې ځواک ورکوي، د ډله‌ييزې همکارۍ تمرين برابروي، او د فکري توليد او عملي تطبيق په برخه کې د ګډون احساس رامنځته کوي.

۵ - مشوره ګډونوال د مسؤليت احساس ته رسوي، هغوی دا احساس کوي، چې له مسؤل سره يوځای د ګټو د تحقق او د فسادونو د مخنيوي لپاره هڅې کوي. نو مشوره په حقيقت کې د مسؤليت وېش دی تر څو پر يو کس يې بار را نه شي. هر څوک په مسؤليت کې شريک وي، نو خلک يو پر بل ملامتي نه اچوي او شخړې نه رامنځته کېږي.

٦ - مشوره د حاکم او ولس ترمنځ باور زياتوي، زړونه نرموي او د مشر نظر د انفرادي نظر پر ځای يوه ټول‌منلې فيصله ګرځي. د مشورې له لارې د استبداد مخنيوی کېږي او دولت ته بااستعداده او وړ خلک پيدا کېږي.

۷ - مشوره د حاکم او ولس ترمنځ د اختلاف واټن کموي. اختلاف طبيعي دی، خو کله چې نظريات سره تبادله شي، د حق څرګندېدل د مخالف نظر خاوند ته د رجوع لار هواروي، نظرونه سره نېږدې کېږي.

۸ - مشوره د امت د افرادو پټ استعدادونه راويښوي، متخصصين هڅوي او هر هغه چا ته زمينه برابروي، چې د امت لپاره د خير نيت لري، چې خپله رأيه وړاندې کړي. که يې رايه ومنل شي ښه، که نه، نو خپل مسؤليت يې ادا کړی‌دی.

۹ - مشوره د افراط او تشدد تمايلاتو سره مبارزه کوي، ځکه چې د اجتهاد پايله اکثره وخت متوازنه پريکړې وي. افراط زياتره وخت د هغو کسانو لخوا کېږي، چې محدودې انګېزې او عقدې لري. خو کله چې د ګڼو کسانو بېلابېلې نظريې تبادله شي، پرېکړه د

اعتدال او واقعیت په لوري روانېږي او د هغو کسانو نظريات هم ارزول کېږي، چې تل فکر کوي يوازې همدوی حق لري.

۱۰ - مشوره دا زمينه برابروي، چې ستونزې له بېلابېلو اړخونو وکتل شي، نظرياتي او عملي پوهه يو له بله څخه بشپړه شي. (صلابي،۱۴۲۲ : ۱۳۲ – ۱۳۸)

## پايله

د څېړنې په جريان کې وموندل شول، چې مشوره هغه نيک او ښه عمل دی، چې په قرآن کې يې پر کولو ټينګار شوی دی او الله ﷻ رسول الله ﷺ امر کړی دی، چې د خپلو ملګرو سره مشوره وکړئ، همدارنګه الله جل جلاله مشوره د مسلمانانو مهمه ځانګړنه ګڼلې ده، چې تل يې بايد په خپل منځ کې عملي کړي، د رسول الله ﷺ د احاديثو څخه هم داسې ښکاري، چې مشوره کول ډېر ضروري عمل دی، ځکه نو د رسول الله ﷺ او د اصحابو په سيرت کې يې موږ ډېرې بېلګې لرو دا ځکه چې په مشوره کې د انسان لپاره ډېري ښېګڼې نغښې دي آن تر دې چې مشوره کوونکی به ډېری وختونه په خپلو کارونو کې برياليي وي او هېڅ وخت به نه پښېمانه کېږي. د رسول الله ﷺ د سيرت څخه داسې هم ښکاري، چې د ښځو سره مشوره کول هم پروا نه لري او انسان کولای شي په ډېرو مهمو ځايونو کې د ښځو سره مشوره وکړي لکه رسول الله ﷺ ، چې په حديبيه کې د ام سلمې رضي الله عنها مشوره واورېدله او عمل يې پرې وکړ. د مشورې څخه هېڅوک استثناء نه دی، بلکې کشران او مشران بايد خپل ټول کارونه د اهل کسانو سره په مشوره باندي سر ته ورسوي ځکه په مشوره کې ډېري ګټې نغښتي دي له همدې امله وينو، چې په مشوره ستونزې اوارېږي، په مشوره ويده استعدادونه راويښيږي، په مشوره باندي د خلکو او نظام تر منځ واټن کمېږي، په مشوره باندي پر يو بل باور ډېرېږي، په مشوره باندي انسان حق ته رسيږي او که مشوره په ښه نيت باندي وشي نو طاعت او عبادت ګڼل کېږي.

## منابع


القرآن الكريم

الاشبيلي عبدالحق ابومحمد(١٤٢٢ هـ ق). **الأحكام الشرعية الكبرى**. الرياض: مكتبة الرشد .

الاندلسي، محمد ابو عبدالله .(بی تا). **بدائع السلك في طبائع الملك**. بی جا .

البخاري، بن اسماعيل محمد .(١٤٠٧ هـ ق). **صحيح البخاري**. القاهره: درالشعب

البكري، ابن بطال على .(١٤٢٣ هـ ق). **شرح صحيح البخاري**. الرياض: مكتبة الرشد .

البيهقيي، ابوبكر احمد بن الحسين .(١٣٤٤ هـ ق). **السنن الكبرى للبيهقي**. بي جا

الخطابي، ابوسليمان احمد .(١٣٥١ هـ ق). **معالم السنن**. حلب: المطبعة العلمية .

الدمشقى ، محمد امين ابن عابدين .(١٤١٢ هـ ق). **رد المحتار على الدر المختار**. بيروت: درالفكر

الشيباني، ابن حنبل احمد .( بي تا). **مسند احمد بن حنبل**. القاهره: مؤسسة قرطبة .

الصلابي، علي محمد .(١٤٢٢ق). **الشورى فريضة إسلامية**. سوريا: دار ابن كثير .

العسقلاني، ابن حجر احمد .(١٣٧٩ هـ). **فتح الباري شرح صحيح البخاري**. بيروت: دارالمعرفة .

القرطبى النمري، (١٤٢٤ ـ ). **جامع بيان العلم و فضله**. بيروت: دار ابن حزم

القرطبى، شمس الدين .(١٣٨٤ هـ ق). **الجامع لأحكام القرآن**. قاهره: دالكتب المصرية .

الكويت، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية .( ١٤٢٧ هـ ق). **الموسوعة الفقهية**. الكويت: دار السلاسل .

النسائي، احمد ابوعبدالرحمن .(١٤١١ هـ ق). **سنن نسائي**. بيروت: دارالكتب العلمية .

اليحصبي، قاضي عياض .( بی تا). **اكمال المعلم شرح صحيح المسلم**. بی جا

مصطفى، ابراهيم .(١٣٨٠ ق). **المعجم الوسيط**. بی جا

ابراهيم، عبدالفتاح . (2017) . الشورى وأثرها في التنمية الاجتماعية . مجلة الدراسات الإسلامية، ١٢(٣)، ٤٥-٦٠ .

ابن كثير، اسماعيل . (2005) . تفسير القرآن العظيم . بيروت: دار الفكر .

الطبراني، سليمان . (1993) . المعجم الصغير . قاهره: دار المعارف .

القرضاوي، يوسف . (2012) . من فقه الدولة في الإسلام . القاهره: دار الشروق .

بن حمد، ناصر . (2020) . الشورى في الفكر الإسلامي المعاصر . مجلة الفكر الإسلامي المعاصر، ٨(٢)، ٧٠-٩٠ .

# بحثٌ حولَ قيمةِ الشورى في ضوءِ القرآنِ الكريمِ والسُّنَّةِ النبويَّةِ

مولوي نورالحق مظهري

قسم الدارسات الإسلامية ، الكلية الشرعية ، بجامعة فراه

البريد الكترونيكي : noorulhaqmazharee@gmail.com

## ملخص

تُعَدُّ المشورةُ من القيمِ الأساسيّة في حياة الإنسان، إذ تُعَدُّ دليلاً على العقلِ والرأيِ السديدِ والتناسقِ الاجتماعيّ. ووفقًا للقرآن الكريم والحديث الشريف، فإنّ المشورة ليست مجرّد عملٍ مستحبٍّ في القرارات الفرديّة، بل هي أصلٌ أساسيّ في إدارة المجتمع والقيادة وتحقيق العدالة. تُظهرُ الدراسات أنّ الله جلّ جلاله قبل خَلْقِ آدم عليه السلام قد تحدّث إلى الملائكة بصيغة المشورة، كما أنّ الرسولَ صلى الله عليه وسلم كان يستشير أصحابَه في كثيرٍ من الأمور المهمّة، ومن ذلك قبوله لمشورة أمّ سلمة رضي الله عنها في صلح الحديبية. وتهدفُ هذه الدراسةُ إلى بيانِ قيمة المشورة وأُسُسها الدينيّة وآثارها الاجتماعيّة وأبعادها التطبيقيّة، وإلى إظهارِ آنها وسيلةٌ لتوحيدِ العقولِ الإنسانيّة وتجنّبِ الندم في القرارات. وقد استُخدمَ المنهجُ المكتبيُّ الوصفيُّ التحليليُّ في هذه الدراسة، بالاعتمادِ على آيات القرآن الكريم والأحاديث النبويّة وآراء العلماء المعاصرين. وتُظهرُ نتائجُ البحث أنّ المشورةَ مبدأٌ جوهريّ في القيادة الإسلاميّة يُسهِم في تحقيق العدالة والوحدة والثقة والتقدّم. ومن ثَمّ فإنّ تطبيقَ المشورةِ لا يُعَدُّ مجرّدَ واجبٍ دينيّ، بل هو ضرورةٌ حتميّةٌ لتقويةِ العقل الإنسانيّ وتحقيقِ التنميةِ السليمةِ في المجتمع.

**الكلمات المفتاحية:** العقل الإنساني، التعاليم الإسلامية، الاتفاق والوحدة، الحديث، القيادة، الشورى، القرآن، المشورة، العدالة الاجتماعية.